بسم الله الرحمن الرحیم

د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت بانکی و خدمات مالی

۸۸۱۱
گڼه: ۶۴۹۱/ ۱/ ۶۰۲ م م
نېټه: ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶
۱۴۰۳/ ۱۱/ ۱۰

د افغانستان بانک

---

ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته و بعد:

**موضوع:** د پوهنتونونو څخه فارغو محصلینو لپاره د کار زده کړې (Internship) زمینه برابرول

له ډېر درناوي وروسته؛

په هیواد کې د بانکي سکتور د پیاوړتیا او په بانکونو کې د بشري قوې د غښتلتیا او ټینګښت په موخه اړتیا ده چې په بانکي سکتور کې د پوهنتونونو فارغو محصلینو ته د کار زده کړې زمینه مساعده شي څو په راتلونکې کې د بانکي چارو په کار پوه بشري سرچینې موجودې وي.

پدې اساس ټولو مجوزو بانکونو ته لارښوونه کیږي چې د هیواد دننه او بهر پوهنتونونو څخه فارغ زده کړیالانو ته د کار زده کړې (Internship) زمینه برابره کړئ.

همداراز، هر قدرمن بانک مکلف دې چې د شپږو میاشتو لپاره لږ تر لږه لس زده کړیالانو ته د کار زده کړې زمینه برابره کړي او د یادو کسانو نوملړ یا شهرت د افغانستان بانک د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت د مقرراتو مدیریت ته په منظم ډول راواستوئ.

د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

۱۴۴۶/۷/۲۸

نور احمد آغا
د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس

---

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۱۴۶ (۲۰) ۰۰۹۳/ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب
شبکه‌های اجتماعی: فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - AFGCentralbank@ / انستاگرام - ؛